# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


## لویو لارو کې د لنډمهاله تمځایونو جوړولو طرحه چمتو شوې ده

د ټولګټـو وزارت وايي چې د هېواد لویو لارو پـه اوږدو کې د لنډمهاله تمځایونو جوړولو طرحه یې چمتو کـړې او له اړونـدو شـرکتونو او اشخاصو یې غوښـتي چې پر لویو لاره درولي لوحې لرې کړي.
د لویو لارو د خط اچونې، د ترافیکي لوحو لګولو او د غیر ضروري لوحو لـرې کولو په اړه د ټولګټو وزارت په یوه خبرتیا کې ویلي چې دا پرېکړه د کابینې په غونډه کې شوې ده.
سرچینې زیاته کړې، د دې پرېکړې له مخې، د جوړې شوې طرحې (د ترافیکي پېښو او بې نظمیو مخنیوي طرحه) د تطبیق په موخه د ترافیکو ریاست په همکارۍ د هېواد په ۲۸ ولایتونو کې د ترافیکي نښو او لوحو نصب، د غیرضروري لوحو ټولول، د مقعرو او محدبو هینداړو نصبولو په موخه د مقدماتي سـروې چارې بشپړې کړې او په ځلورو... ۷مخ


د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۳۳) ګڼه / یکشنبه ۱۲ شعبان‌المعظم ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۱۴ حوت ۱۴۰۱ هـ.ش / ۰۵ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


# تطبیق پروژه های بنیادی از سوی روسیه در افغانستان



وزارت خارجـه روسـیه اعـلام داشـته اسـت که چند شـرکت روسـی، ایرانـی و پاکسـتانی، قراردادهایـی را با وزارت تجارت و صنعت افغانسـتان بسته اند که به موجب آن چند پـروژۀ بنیادی در این کشور آغاز خواهد گردید.
بـه گفتۀ وزارت خارجه روسـیه، ایـن قراردادهـا در مـاه فبروری امضا شـده اسـت کـه هزینۀ آن بالاتر از یک میلیارد دالر اسـت؛ قراردادهای مذکور شامل ساخت یک نیروگاه حرارتی زغال‌سـنگ، اسـتخراج معادن و نوسازی خط لوله گاز در هرات می‌باشد.
در اطلاعیـۀ وزارت خارجـه روسـیه که روز گذشـته منتشـر گردید، آمده اسـت: «براسـاس تفاهم‌نامـۀ چهارجانبـه‌ای که به تاریخ ۵ فبـروری در کابل امضا شـد، وزارت صنعـت و تجارت افغانستان، جمعی... ص۷

## ادغام ولسوالی غورماچ فاریاب به ولایت بادغیس



ریاست الوزرا، پیشنهاد وزارت داخله مبنی بر ادغام ولسـوالی غورماچ به ولایت بادغیس را ، پذیرفته است.
وزارت امور داخله می گوید: ولسوالی غورمـاچ از تشـکیل اداری ولایت فاریاب حـذف و به ولایت بادغیس مدغم شده است.
ایـن وزارت روز گذشـته بـا نشـر خبرنامه‌یی گفت: که «انتقال ولسوالی غورماچ از ولایت فاریاب... ص۷

## الکوزی: د پاکستان اقتصادي رکود د افغانستان پر سوداګرۍ منفي اغېز کړی

د سـوداګرۍ او پانګونې خونه وايي، په پاکستان کې اقتصادي رکود د دې هېواد او د افغانسـتان پر سـوداګرۍ منفي اغېز کړی دی. د سـوداګرۍ او پانګونې خونې د معلوماتو له مخې، له پاکستان سره د افغانستان صادرات او واردات نږدې درې مېلیارډ ډالرو ته رسـېدل، خو دمګرۍ دغه کچه کمه شوې ده. د دې خونې د مدیره پلاوي غړی خان جان الکوزی ټینګار کوي چې له پاکستان سره د افغان سوداګرو سـوداګریزه راکړه ورکړه د کلدارو له سـقوط سـره ورځ په ورځ کمېږي. په وروستیو میاشـتو کې پاکستان له اقتصـادي رکود سـره مخامخ دی. اوس‌مهال دغه هېواد له ۳۱ ... ۷مخ

## بازداشت ۱۸ تن در پیوند به قضایای جنایی

شـریعت: هژده تن از شـش ولایت کشور در پیوند به قضایای چون قتل، سـرقت، قاچاق پول از سوی پولیس بازداشت گردید.
دفتر مطبوعاتی وزارت امور داخله روز گذشته با نشـر خبرنامه‌یی گفت: که نیروهای پولیس ملی، در شش ولایت هژده تن را در پیوند به جرایم مختلف جنایی بازداشت کردند.
از این میان، پنج تن در پیوند به جرایم مختلـف از خوسـت، پنـج تن از بدخشان، سه تن در پیوند به سرقت از کابل، سه تن در پیوند به قتل و سرقت مواشـی از فاریاب، یک تن در پیوند به سـرقت موتر از کندهار و یک تن دیگر در پیوند به قاچاق شصت هزار پول سـامانی از شیرخان بندر کندز، بازداشت شدند.



## ایټالیا کې د کښتۍ ډوبېدو پېښه کې د ۳۲ افغانانو جسدونه پېژندل شوي



په ایټالیا کې د افغانسـتان سـفارت وايي چې د دغه هېواد سـواحلو ته نږدې په ډوبه شوې کښتۍ کې د مړو شـویو افغانانو له ډلـې څخه د ۳۲ جسـدونه پېژندل شوي دي. د روانې کب میاشتې په اتمه نېټه د غیر قانوني کډوالو یوه کښتۍ د ایټالیا... ۷مخ

## هرات کې ۶ داعشیان ووژل شول

د هـرات د امنیـي قومندانـۍ مسـوولینو په دغه ولایت کې د ۶ خوارجو د وژلو خبر ورکړی دی.
د دغه ولایت د امنیـي قومندانۍ مسـوولینو د باختر آژانس سـیمه ییز خبریـال ته وویـل، چې تېره شـپه امنیتـي ځواکونـو د یو لړ ځانګـړو عملیاتو په تـرڅ کې د یاد ولایت د ځوارلسـمي امنیتي حـوزې اړوند په ربـاط کابلي‌ها سیمه کې د یوې مېرمنې په کډون ۶ خوارج له منځه وړل شوي او یو امنیتي سرتېری هم ټپي شوی دی.
د مسوولینو په وینا، په دغو عملیاتو کې درې میلـه کلاشـینکوفونه، پنځه میله تومانچـې، یو دوربین او ۱۵ موبایلونه هم ترلاسـه شوي دي.

رسنیز او تبلیغاتي پوښښ په څان کـې بـاید څـه ولـري ؟! ۲ مخ

مدیریت اقتصاد خانواده و تأثیر آن در زندگی اجتماعی صفحه۳

نشنلیزم (قوم پرستي) Nationalism ٤ مخ

سرمقاله

## پسرلی او دنیالګیو جاري صدقه!

معلومه ده چې نن سـبا زمـوږ په ټول هېواد کـې د نیالګیو دکرلو خوراښـه موسـم اوغوره فرصت دی ، ښه موسـم په دې چې د پـسرلي ورځې دي او دا د بشـپړکال په طبیعی یـون کې دکایناتو دخالق او مالک له تکویني قوانینو سره سـم همېشه پرخپل وخت راغلی او راځي ، دغه راز ښـه موقع اوغـوره فرصت هم زموږ د بـشري او ټولنیزو حالاتو د بدلون پایله کـې منځ ته راغلی. څکه افغان ولس ترلسـیزو ناخوالو ، بهرنیو یرغلونو ،جګړو ، مصیبتونو خپل منځی اخ وډب نا امنیو او بلا سـتونزو وروسته ایله اوس یو داسـې فرصت موندلی چې پرته له ویرې ترهې په ډاده اوبې غمه زړه له بهرنیو فرمایشـاتو اومداخلو لـیرې او یوازې له خپلوټاکلو لومړیتوبونـو سره دخپل هېواد آبادۍ او سـوکالۍ ته ملاوتړي او دخپلو لاسـوپه ټناکوېې پرځان بسـیا، له سـیالانو سره سیال او د پردیو له احتیاجه وژغوري، پرته له شـکه دا د خپلواکۍ برکت دی او پرموږ ټولو لازمه ده چې له بهرنیو صلیبی دښـمنانو دخلاصون په شـکرانه کې ترهرڅه لومړی پرخپل ځـان او خپله ټولنه دګردو الهی لارښوونو او قوانینو په تطبیق کې هڅه او هاند وکړو او دویم دا چې دهمدې مسـلمان او غیرتي ولس دهوسـاینې اوبسـیاینې لپاره د اخـلاص اوهمت ملاوتړو . په دې لړکـې یو ډېر مهم ګام دادی چې د هېواد انتظامـي، دیني او ټولنیزمشران ، مخور، زلمی اوکشران ګـردسره دموجوده پسرلي له مناسـب فرصت پوره ګټه واخلو ، دا موسـم دنیالګیو او نورو مناسبو کروندو یوه غوره موقع ده ،ددغـې موقع داهمیت پېژندنـه هم خورا ضروري چاره ده زموږ دملت واړه او زاړه باید ددې موسـم په ارزښت او په دې کـې په خصوصی توګـه دنیالګیو دکرلو په ګټو ډېر ښـه وپوهول شـی، دا وخت ترهرڅا زیات دحکومت لـوی مرکزي مشران او سـیمه ییزچارواکي مسـؤلیت لری چې دهېواد په ګوټ ګوټ کې دنیالګیو کرلو لپاره اولسي پرګنې او خصوصي پانګه وال وهڅوي ترڅو هرفرد ترخپله وسه په دغو ولسي اشرونوکې ونډه واخلي اوپه دې ډول خپل ځپل شـوی هېواد سمسـور او ښېرازکړي، واقعیت دادی چې که ونې بوټـي اونیالګي کرل له یوې خوا پرېمانه مادی ګټې لري.مثلاً چاپېریال ښایسـته کوي د بادو او توپانو... ۷مخ

## فراه کې د څښاک اوبو ٦ شبکې جوړېږي



شـریعت: د فراه ولایت د پشـترود ولسوالۍ په ٦ کلیو کې د ۲۲ میلیونو ۸۹۹ زره او ۷۰۰ افغانیو په لګښت د څښاک اوبو ٦ شبکې جوړېږي.
د یادو شبکو د پرانیستلو پر مهال د دغه ولایت د کلیو، بیـا رغونې او پراختیا رئیس مفتي محمد نسـیم سرهنګ وویل، چې دغه شبکې... ۷مخ

## د بدخشان د سرو زرو کان کې دوه تنه مړه شوي دي

د بدخشـان په یاوان ولسوالۍ کې د سـرو زرو کان نړېدو له امله دوه کان کیندونکي مړه شوي دي. د بدخشان د اطلاعاتو او فرهنګ رییس معزالدین احمدي وايي چې دغه پېښه تېره ورځ د یاوان ولسوالۍ د "قطاربید" سیمې د سرو زرو په کان کې رامنځته شوې ده. نوموړي زیاتـه کړې چې په دغه پېښـه کې یو بل کان کیندونکی ټپي شـوی هم دی. احمدي همدارنګه ویلـي چې په کان کې د مړو شـوو کسانو جسـدونه د یادې ولسوالۍ د امنیتي مسولینو او سیمي خلکو لخوا تر ځلورو سـاعتونو عملیاتو وروسته له خـاورو څخه را ایسـتل شـوي دي.

## د کندز د صنعت او سوداګرۍ ریاست په عوایدو کې ۴۸ سلنه زیاتوالی راغلی دی

د کنـدز د صنعـت او سـوداګرۍ ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ریاسـت په عوایدو کې د تېرکال په پرتله ۴۸ سلنه زیاتوالی راغلی دی.
د دغه ولایت د صنعت او سوداګرۍ رییس مولوي محمد رحیم سـیرت له باختر آژانس سـره پـه ځانګړې مرکه کې وویل چې د دغه ولایت د صنعت او سوداګرۍ ریاست په تېر کال کې یې ۱۱۲ خصوصي شرکتونو ته نوي جوازونـه او دغه راز د ۳۰۳ شرکتونو جوازونه یې نوي کړي دي.
مولوي سیرت زیاته کړه، چې د یادو جوازونو په وېش او نوي کولو سـره یـې ۱۱ میلیونـه ۸۱۶ زره او ۳۵۰ افغانۍ عواید راټول کړي،... ۷مخ

## همکاری ترکیه در بخش زراعت با افغانستان



شـریعت: سـفیر ترکیه در دیدار با سرپرسـت وزارت زراعـت گفت کـه افغانسـتان را در بخش زراعت همکاری خواهد کرد.
در ایـن دیـدار، مولـوی عطاءالله عمری سرپرسـت وزارت زراعت با جهاد ارگین‌آی سفیر ترکیه در کابل، پیرامون همکاری‌هـای دو جانبه در راستای انکشاف زراعت و... ص۷

## غور کې نږدې ۱۲ زره کیلوګرامه یامه وسوځول شوه

شـریعت: د غور ولایت په فیروزکوه ښـارکې ۱۱ زره ۸۶۰ کیلوګرامه یامه ( چې د نشـه یي توکو په کارولو کې ترې کار اخیسـتل کېږي) کشف او وسوځول‌شوه.
د دغه ولایت د امنیي قومندانۍ ویاند عبدالرحمن بدري وویل، ... ۷مخ

## هشت تانکر تیل بی کیفیت به ایران مسترد گردید



شریعت: هشت تانکر تیل بی کفیت ایـران کـه از طریـق بندر فـراه وارد افغانسـتان گردیده بود، دوبـاره به آن کشور مستردگردید.
ادارۀ ملی سـتندرد روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت: که این... ص۷

## هلمند کې د اوبو یوه شبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

شریعـت: د هلمند په ګرشـک ولسوالۍ کې د یونیسف په مالي ملاتـړ د ٦ میلیونـو ۹۰۷ زره او ۳۳۵ افغانیو په لګښت د څښاک اوبو یوه شـبکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د یـاد ولایت د کلیـو، بیارغونې او پراختیا ریاسـت مسـوولین وایي، چې دغه شـبکه د ۴۰ زره لیټره اوبـو د زېرمې په لرلو سره د ګرشک ولسـوالۍ په پارک کلي کې جوړه شـوې، چـې پر مټ یې ۳۹۷ کورنیو، یوه ښوونځي، یوې مدرسې او ۵ جوماتونو ته د څښـاک پاکې اوبه برابرې شوي دي.

# رسنيز او تبليغاتي پوښښ په ځان کې بايد څه ولري ؟!

**جبريل سعد**

د رسنيز او تبليغاتي پوښښ په اړه اوس عام فکر دا دی چې د پېښو، پرېکړو، پاليسيو، موقفونو، ښرگندونو، غبرگونونو، پرمختگونو او لاسته راوړنو او داسې نورو ور کړل شوی خبر، اړونديې تبصرې، ارزونې، تحليلونه، غبرگونونه، انځوريزې صحنې او... تر ممکن حده تکثير او خپاره شي او د سطحي يا هم پراخ رسنيز پوښښ معيار هم د خپرونو دغې لړۍ کچه وي چې د بېلابېلو ټکو، اندازونو او توکو لـه لارې يې په تکراري ډول-يو له بلې په اخيستنې زياتر او که وواېو دوه برخې يواځې ستاينې، نيوکې او غندنې وي؛ لړې به نه وي، نـور دېته پاملرنه پکې نه کېږي چې په کومو غوښتنو يې پوره دي او له کومو يې نيمگړې؟ ترڅو بيا په ورته نورو تبصرو، ارزونو، تحليلونو او غبرگونونـو کې نيمگړتياوې ور پوره شي او رسنيز پوښښ يې اړوند وضاحتونه او همدارنگه ښرگند او ناښرگند پيغامونه، دلالتونه، شـونتياوې، اړخونه او... همدارنگه ننگونې، ممکن غبرگونونه، زيانونه، پوښتنې، اندېښنې، اټکلونه، برداشتونه او ځوابونه يې بشپړ را ونغاړي او په ټوله کې له رسنيزې او تبليغاتي مخې ټولې غوښتنې او بشپړتياوې ور پوره کړي. له دې ور هاخوا پکې د رسنيز او تبليغاتي پوښښ موخې هم په پام کې نـه نيولې کېږي چې يوه مهمه هغه يې د اړوندو دښمنو حتمي او احتمالي تبليغاتو او تبليغاتي اسـتفادې چانس لـه منځه وړل، جراثيم يې په خپلـو خلاياوو او حجراتو کې شـنډول او له رامنځتـه کېدو سره سـم يې اغېزې ختمول او مؤثر مخنيـوی دي او همدارنگه پر اړوند عام فکر او احسـاس بشپړ کنترول ترلاسه کول، پر وخت يې مديريـت، د اړوندو حقائقو او واقعيتونو په اسـانۍ سره منلو ته يې اماده کول او د عام فکر تر کچې په پراختيا ور کولو سره يې فکر عامـول او اړوند عام پوهاوی او فکر را منځته کول هم د رسـنيز او تبليغاتي پوښښ له لومړنيو او سـترو موخو څخه دي او په چاپي او برېښنايي شکل يې امکانات، وسـائل او لارې چارې که څه هم پکې پر اسـلام او جهاد پالنې گڼ محدوديتونه شته؛ هم اوس په اړتيا پوره او د يو څه په اړه د عام فکر او پوهاوي را منځته کولو کې تر عمل او مشاهدې هم ډېر اغېزمن دي.

د برېښنايي توکو د ډېرو وگړو د ژوند د برخې په گرځېدو سره چې اوس د رسـنيز او تبليغاتي پوښـښ دغه لاره تر چاپي هغې اسانه-ارزانه-پراخه هم ده، پېرودونکي او مينه وال هم ترې په مراتبو زيات لري، په برېښـنايي نړۍ کې يې اغېزې تر يو قشر-يو ملت-يو مذهب-يوې جغرافيې-د سايس بيکو رامنځته کړې کومې پولې پورې هم ځانگړې نه دي او بالآخر د انټرنيټ نړۍ اړوند رسـنيزو کاريالونو له اړخه يې بازار هم ښـه تود دی؛ لـه لارې يې پر ټول پوره رسنيز او تبليغاتي پوښښ که په تېر کې و، د نن لپاره بسـنه کوي يا لږ تر لږه اسانتيا را منځته کوي، که نن وي هغه سـبا او داسې هر وخت د بشـپړ راتلونکي لپاره...، بلکې د نن رسـنيز پوښـښ د پروني ورته مورد نيمگړتيا، د پـرون هغه د وړمې ورځې او داسـې مخ پر لوړه هم د هر وخت او ټول تېـر نيمگړتياوې پوره کولای شي، ډېر داسـې موارد اوس هم شـته چې په تېر کې تر پوښـښ لاندې راغلي، خو د مبارزينو له پامه پر وتو يې دښـمن ترې په اسـتفاده د همغو مواردو له لارې پر نوي تکتيك او بڼه رسـنيز او تبليغاتي ډگر ته ښـکته شي چې تېره يوه اونۍ کې يې هم دوه پېښې را منځته شوې او بيا مبارزين ورته نوي غبرگونونه لټـوي او ځينې وخت له اړوندو له پامه وتليو مواردو او پوښښـونو سره هم پکې ټکر راشي، دښمن ترې ناوړه گټه پورته کړي او ياد منفي ټکي لا زياته مرسـته ورسره کوي، خو که مبارزين لږ وپلټي؛ ښايي د همدغو پخوانيو مواردو له ښرنگوالي او پوښښـونو اوس هم گټه پورته او پرې اساني رامنځته کړای شي چې د تېر برياليـو مبارزينو او مبارزې د تجربـو په توگه به تر نويو هغو ځواکمن او اغېزمن هم وي، په ټکر کې به هم ورسره نه راځي او ترې په استفاده پر دښمن کارنده گوزار شي يا لږ تر لږه به ناوړه گټه ترې پورته نکړای شي.

تېره اونۍ يوه د کلونو پخوانـۍ، د همغه رژيم او همغو واشـنگټن او د واشـنگټن د همدې(انځوريز کليپ کې ښودل شـويو)گټو سـاتونکو يوه ويډيو پر خواله رسنيو خپره کړه چې پر خپل وخت يې هم همدې خواله رسنيو کې گڼ غبرگونونه او رسـنيز انعکاسات لرل، خو دا ځل دښـمن بياهم همدلته پر خواله رسـنيو؛ خو د اسلامي امارت مجاهدينو د رسنيزې او تبليغاتي بدنامۍ لپاره ترې اسـتفاده وکړه او بيا که څه هم يوه شنډه هڅه ثابته شوه، خو د تازه رسنيز پوښـښ او غبرگون پر مټ نه، بلکې پر تړاو يې هماغه پخوانيو غبرگونونو او رسـنيزو پوښښونو ښودلې د پخواني واقعيت ښرنگوالي ته د عامې لاسرسۍ پـر مټ. په همـدې اونۍ کې د پکتيکا يو تن د اشـغال تپلي رژيم او د واشـنگټن د گټو ساتونکی قوماندان چې د هغه مهال وحشـيانه مخينې سربېره د اسـلامي امارت د عامې عفوې فرمان ته منفـي ځواب او گاونډي هېواد ته له تېښـتې وروسـته يې بيا هم د مخالفت له هوډ سره بغاوتگرانه تخريبي ناکامې هلې ځلې کولې؛ په خوست کې له نيول کېدو او اعترافونو وروسـته د کړيو شهيدانو د خپلوانو له لوري ووژل شـو. په خواله رسـنيو کې دې پېښې څه ناڅه غبرگونونه چې په يو ډول له عامې عفوې پر سرغړونه او د مشرانو پـر بې اطاعتۍ را ښرخېدل؛ له ځان سره لرل او پکې د عامې عفوې پر ښرنگوالي، تفسير او پولې يا حدودو چې له لومړي سره پرې پر خپل وخت د پوره او پراخ رسـنيز او تبليغاتي پوښښ نه شتون له امله گرد پاتې و؛ اوس بياهم پرې په بشـپړ ډول سـترگې پټې شـوې دي او سره له دې چې د اسلامي امارت د مشرتابه د هغه مهال مرستيال درانه مشر خليفه سراج الدين حقاني عفوه تفسـير کړې وه چې نه سـياسي ده او نه هم ملي يا دوديزه، بلکې شرعي يې بللې وه؛ بياهم تبليغگر دښـمن اوس له ځانه تفسيرونه او وضاحتونه ورته تراشي او پرې د بدو وژل سرغړونه او بې اطاعتي ثابتوي.

حقيقت دا دی چې د اسـلامي امارت د عفوې مخاطبين له عفوې سره سم درې برخې شول، يوې برخې د عفوې له مفهوم او ترې د اسلامي امارت له موخې سره سم هغه ومنله، تسليم يا کېناستلې؛ خو له تېرو مخالفتونو لاس پر سر او عادي وکړېز ژوند ته ستانه شول چې اوس په بشپړ ډول مصـون او خوندي دي او د همدوی د خونديتابه ته گواښ پېښدل رښـتياهم له عفوې سرغړونه او د مشرانو بې اطاعتي کېدلی شي. دوهمې ونه منله او په ښکاره يې ورته منفي ځواب ووايو او درېيمې لومړي سر کې ومنله چې يا تسـليم يا پر کور کېناسـتل، خـو دا يا تر فرصت موندلو او ياهم د دښـمنانه هڅونو ښکار شول او بيا يې عفوې ته بېرته پر منفي ځواب ويلو مخالفت ته مخه کړه، پـه دې مانا چې نه د تېر عفوه غواړو او نه هم د راتلونکي مصونيت او پـه دې ډول يې پر لوی لاس له عفوې ځان ويوسـت، نو د عفوې مفهوم او ترې د اسـلامي امارت موخو کې ځکه ښـايي را نشي چې عفوه د خپل تفسـير ترڅنگ د هغې پر وړاندې د مخاطبينو د موقف پر تفسير هم ولاړه ده چې نه له پيله او نه هم تر اوسه يې بل تفسير شوی، يواځې همدا وضاحت او وېش يې تفسير دی چې له مخې يې تـر عفوې لاندې راشي يا هم ترې ووزي او مسـتثنا شي. نو عفوه يواځې ستايل شوې او لنډه تفسير شـوې وه، نور يې رسـنيز او تبليغاتي پوښښ هغه ټول څه چې بايد لرلي يې وای او اوس يې فرصت د دښـمن لاس ته لوېږي؛ په ځان کې نه لرل، نو رسـنيز او تبليغاتي انعکاس او پوښـښ بايد يواځې پر ستاينو، غندنو، نيوکو او يو له بله پر اخيسـتنې ور ټول نه وي، بلکې له بېلابېلو زاويو پر جلا ارزونې هغه ټول څه په ځان کې ولري چې بايد ويې لـري، ترڅو پر معيار پـوره، هر وخت د گټې اخيستنې وړ، له تاريخي اړخه بشپړ او هر ډول غوښتنې، پوښـتنې، اندېښنې او اټکلونه ځوابولی شي چې د هېواد په کچه وياندانو، ژمنو ژورنالسـتانو او قلموالو-رسـنيو-مدني فعالانو همغږي او گډه شـورا يې په ښـه توگه تر سره کولی هم شي او د تېر فرهنگي کمېسـيون مشران او فرهنگپال يې له پخوا راسې هنر لري.

# په لويديځ کې د ښځې حيثيت او په اسلام کې يې اهميت

**ساجدالله عظمت**

په اروپـا او امريکا کې جينۍ پيدا کېـږي، خو پلار نه پېژني.

د خپلـې مور په کور کې پالل کېږي، خو آن هغې ته هم د دې پلار معلوم نه وي.

بيـا لويه شي، آن اتلـس کلنۍ ته ورسـېږي، نو دا دوه اختيـاره لري: چـې له مور سره پاتـې شي او د کور په کرايه کې گډون ورسره وکړي. يا مور پرېږدي او د خپل ملگري په کور کې ژوند و ژواک وکړي.

او دا طبيعـي ده چـې د خپل يار په کـور کې به له څه ورکړې پرته نه اوسـېږي او خپل جسد و بدن به په بشپړ ډول هغه ته ورکوي، څو ورسره پاتې شي.

بيا له يوه ملگري بل ته ځي، څو واده وکړي.

او پای کې همدا سناريو تکرارېږي...

تر دې چـې عمر يې زيات شي او د هيـڅ اولاد يې نه وي.

او د دې يوازينی هسـتوگنځی د خـوارو بېوزلو او يا د زړو بوډاگانو هستوگنځی وي.

خو:

مسلمانه ټولنه کې چې ماشـومه پيدا شي، مور او پلار يې پـرې خوښ وي، نيا و نيکه يې هم خوښـي کوي، ترونه او ماماگان يې پرې وياړي.

هغه لوييـږي، د خپل مور و پلار تر پالنـې او پاملرنې لاندې وي.

او کله چې د واده وخت راورسـېږي، د هغې د ريبارۍ لپاره ځوانان او د هغو خپلوان راځي.

پلار د ځوان په اړه پوښتنې کوي، تر څو مناسب خاوند ورته پيداکړي، چې د دې ساتنه او پالنه وکړي.

بيـا دا ماشـومان (اولاد) پيدا کوي او په ښـه ډول يې روزي او همدا سناريو تکرارېږي...

د نوموړې عمـر چې زيات شي نـو اولاد يې د دې په خدمـت کولو او هغې ته په ځانگـړې پاملرنه کې يو تر بله سيالي کوي.

او مونږ ته (کوم فلسفي) راځي او وايي: ښځه په اسلام کې په کور کېنول شـوې ده. پر هغې ډېر بنديزونه لگول شـوي، بيا نوموړی کوږ فلسـفي د ښـځو د حريت او ازادي غوښتنه کوي.

اې وروسـته پاتو! آيا تاسـو دا حريت گڼئ چې ښځه د لوبو سـامان وي، له سـړيو څخه چې د هر يو خوښه شي، لوبې پرې وکړي.

او يـا دا چې د ټولنې رنگولـو لامل وگرځي، پر ځای د دې چې نوموړې د هغې ټولنې د ويښولو سبب شي.

اسـلام کې د ښځو حقوق بشـپړ دي، الله جل جلاله د هغو ضمانت کړی. هغه په دې ډول چې ښځې د ساتل شوې ملغلرې غوندې گرځول شوې دي، هغه ملغلرې له حقدار کس پرته بل څوک نشي راخيستلی.

الله سبحانه وتعالی هغې ته په حجاب (ستر) سره پټ، عزت او درنښت ورښبلی.

الله جل جلاله هغـه د ټولنې د بيدارولو لامل گرځولې ده، څو يـوه غوره ټولنه جـوړه کړي، چې د ښايسـته ښکليو خويونو خاونده وي.

اې الله جل جلاله پر مونږ د ښـځو او د مسـلمانانو د ښځو حفاظت او ساتنه وکړې!

زمونږ عزت خوندي وساته او د مسلمانانو ناموسونه هم خوندي لره!

اې رب العلمينه! له هغو کسانو څخه مو مه گرځوه چې د هغوی سعی، هڅه او کوښښ ضايع شوی او له منځه تللی دی او هغوی داسې انگيري چې دوی نيکي کوي.




**سالمزی**

زمانظـر دادی چـې د افغانانـو پـه مېړانـه، شـهامت، غيـرت اوميلمـه پالنـه خـو د نـړۍ دبېلابېلـو اسـتعماري، اسـتکباری او اشـغالګرو هيوادونـو چارواکـو لـه خپلـې ماتـې وروسـته خپـل نظرونـه ورکـړي، کلـه چـې بريتانـوي امپراطـورۍ پـه نيمـه نـړۍ کـې واک چلـوو دخپـل غـرور نيلـي يـې هـرې خواتـه پداسـې چټکـۍ ځغلـوه چـې هيـڅ چايـې پـه وړانـدې د دريـدو جـرأت اوجسـارت نـه درلـود دخپلـو يرغلونـو او هيوادونـو دنيولـو پـه لړکـې يـې پـه افغانسـتان هـم يرغـل وکـړ پـه داسـې حـال کـې چـې د زمانـې پـه عصـری او مدرنـو وسـلو سـنبال هـم ؤ افغـان مؤمـن او ميړنـي ملـت يـې دمقابلـې ګرمـو سـنګرونو تـه راودانـګل اوکلکـه مقابلـه يـې ورسـره وکـړه پـه دريـو لويـو حملوکـې ورتـه داسـي غـابښ ماتوونکـي ځـواب ورکـړ چـې يواځـي پـه يـوه حملـه کـې چـې د انګريزانـو وروسـتۍ جګـړه وه يواځـي دکابـل لـه بوتخـاک څخـه دجـلال آبـاد ترتورخـم پـوري ۱۶۰۰۰ زره انګريـزي ځواکونـه مـردار او لـه منځـه ولاړل اويواځـي يوتـن ډاکټـر چـې برايـډن نوميـده مـړ ژوانـدی لـه تورخـم څخـه مجاهدنيوپـه دې خاطـر پريښـود چـې انګريزانـو تـه دافغانانـو دغيـرت او ميړانـې کيسـې وکـړي.

کلـه چـې انګريـزي ځواکونـه زمـوږ دهيـواد پـه اشـغالولو ونـه توانيـدل او ناهيلـي زمـوږ لـه خـاورې څخـه ووتـل نـو دبريتانيـې دهغـه وخـت صدراعظـم چـې ګلا ډيسـټون نوميـده وويـل لـه هغـه قـوم سـره څـوک څـه کولـی شـی چـې هغـوی جنـت د ټوپـک پـه ميـل کـې ګـوري.

لـه هغـې را وروسـته کلـه چـې دوخـت شـوروی اتحـاد زمـوږ پـه هيـواد يرغـل وکـړ پداسـي حـال کـې چـې پـه نـړۍ کـې يـې سـيال نـه درلـود دنړيوالـو قوانينـو خـلاف بـې زمـوږ پـه خـاوره بربنـډ يرغـل وکـړ او زمـوږ قهرمـان اومسـلمان ملـت يـې دمقابلـې لپـاره ډګـر تـه ور ووت ، پداسـې حـال کـې چـې افغانـان تـش لاس ول يونيـم شـلخی ټوپـک او شـلخی کارتـوس يـې درلـود پـه تبـر، لـور او خالـي لاسـونو يـې دهغـوی سره داسـې مقابلـه وکـړه چـې لـه همـدوي څخـه يـې وسـلې ترلاسـه کـړې او لـه لـس کلـن جنـګ وروسـته چـې پـه ميليونـو افغانـان يـې پـه شـهادت ورسـول او زمـوږ وطـن پـه کنډوالـه بـدل شـو خـو زمـوږ دملـت د کلـک هـوډ اوکلکـې ارادې پـه وړانـدې يـې دمقابلـې تـوان لـه لاسـه ورکـړ او تيـټ سـرونه لـه افغانسـتان څخـه ووتـل چـې د روسـيې قـواوو قومانـدان جنـرال ګرومـوف د حيرتـان پـه پـل د تيريـدو پـه حـال کـې ځينـې ښرګندونـې وکـړې او ويـې ويـل : پـه افغانسـتان يرغـل د روسـيې چارواکـو يـوه سـتره او نـه جبرانيدونکـې اشـتباه وه.

همدارنګـه دجرمنـي ولسمشـر هيلټـر هـم ويلـی ؤ چـې وسـله زمـا وی او فـوځ مـی افغانـان وی نـو مابـه پـه نـړۍ نخـرې کـړی وای . امريکايـې اشـغالګرو ځواکونـو هـم چـې نـږدې ټولـه نـړۍ يـې دځـان تابـع ګرځولـی وه د روسـانو لـه ماتـې را وروسـته خپـل يرغليـز سياسـت تـه د دوام پـه لړکـې پـه افغانسـتان يرغـل وکـړ او د ۲۰ کلـن اوږده جنـګ وروسـته يـې پـه خپلـه ماتـې اعتـراف وکـړاو دامريکـې ولسمشـر جوبايـډن پـه خپلـو اظهاراتوکـې افغانسـتان دامپراطوريـو هديـره يـاده کـړه.

دهنـد پخوانـي ولسمشـر افغانـان لـه مالوچـو نـرم او لـه تيـږې کلـک يـاد کـړی اوويلـې يـې چـې افغانـان هيڅکلـه د چـا بـدې او نيکـې نـه هيـروي لـه دوی سـره ډغـره لـه غـره سـره ډغـره وهـل دي.

مقدونـی سـکندريې پـه اړه ويلـي : يواځينـي خلـک چـې لـه مـوږ سـره جنګيدلـي اوخپلـه ماتـه يـې نـده منلـی هغـه افغانـان دي.

ديـوه امريکايـي جنـرال لـه قولـه چـې ويلـي يـې دي، پـه مـوږ چـې لـه کـوم لـوري دمرمـۍ فيـر کېـږی نـو خپـل ځـان خونـدي ځـای تـه رسـوو خـو افغانانـو برعکـس د ډزځـای تـه ځـان رسـوي چـې لـه نـږدې څخـه يـې مـزه وګـوري.

د روسـيې پخوانـي ولسمشـر ويلـی: کـه پنځـوس زره افغانـان وروزل شـي لـه ټولـې نـړۍ سـره مقابلـه کولـی شـي. يـوه جرمنـی جنـرال ويلـي: افغانـان يواځينـي خلـک دي چـې څـوک ورسـره جنـګ کـوي هرکلـی يـې کـوي، زمـا نظـر دادی چـې مـوږ خـو دجنـګ لپـاره نـه يـو پيـدا شـوي چـې ترقيامتـه بـه مـوږ يـو او جنګونـه بـه وي ترڅـو چـې مـوږ خپـل دې حالـت تـه تغييـر ورنکـړو اللـه (ج) هـم دغـه حالـت تـه تغييـر اوبدلـون نـه ورکـوي .همدارنګـه يـو شـاعر هـم پـدې هکلـه داسـې ويلـي:

**خدای هم نه بدلوي حال دهغه قوم !**
**څوک چې نه بدلوي خپل حالت پخپله**

راځـئ چـې د يـو ملـت پـه توګـه د واحـد افغانسـتان لپـاره پخپلـو کـې يـو بـل تـه لاسـونه ورکـړو او خپـل ځوريدلـي، کړيدلـي اودرديدلـي ملـت د ژونـد طوفانـي بيـړۍ د نجـات سـاحل تـه وباسـو ترڅـو بـه مـوږ خپلـو منځوکـې يـو بـل سـره وژنـو او نړيـوال بـه مـو سـيل کـوي، ترڅـو بـه ا سـتعماري طاقتونـه پرمـوږ دخپلـو وسـلو ازموينـې کـوي او مـوږ بـه لاس تـر زنـې ورتـه ناسـت يـو افغانسـتان يـو آزاد مسـتقل او خپلـواک هيـواد دی راځـئ پـه يووالـی سـره دغـه سـتونزوته دحـل لاره وګـورو او خپلـه آزادي وسـاتو ترڅـو بـه دپرديـو لپـاره د نيابتـي جنګونـو خاشـاک يـو ، راځـئ نـور د پرديـو لاسـوهنو تـه دپـای ټکـی کيـږدو او پـه خپـل هيـواد کـې سـرلوړی ژونـد وکـړو.

**ديوه خپلواک او پرمختللي افغانستان په هيله**

# مدیریت اقتصاد خانواده و تأثیر آن در زندگی اجتماعی

اسفندیار

علم اقتصاد مولفه‌های مختلف را به منظور توسعه اقتصادی دولت‌ها و جوامع پیشنهاد کرده است. در کنار سایر عوامل، یک بخش مهم در راستای تحرک ماشین اقتصادی ملت‌ها مدیریت سالم اقتصاد خانواده است که یک از موضوعات مهم خانوادگی و اجتماعی نیز به شـــمار می رود و شامل مجموعـــه اقدام و عملکردهای می شـــود کـــه خانواده‌ها در زندگی روزمره شـــان با آن‌ها ســـر و کار دارند. از نظر کارشناســـان مســـایل اقتصادی، مدیریت درســـت اقتصاد خانواده نه تنها که بالای رشد اقتصاد تاثیرگذار است، بلکه در ابعاد مختلف فرهنگی، اجتماعی، آموزشـــی و حقوقی نیز تاثیرات مثبـــت دارد. چون هـــر تصمیمی که اعضای خانـــواده می گیرد، بر روند زندگی آنان تاثیرگذار اســـت. بر این اساس، آموزش مهارت های ضروری و کاربردی و اصلاح الگوی مصرف در خانواده و مدیریت درامد، بسیار مهم و ضروری است. از جانب دیگر بی توجهی‌ها نسبت بـــه مدیریت اقتصاد خانواده، دارای ضررهای فراوان بالای بخش های حقوقی، محیط زیســـتی و اجتماعی نیز است و ســـبب ضایع شدن منابع و امکانات، افزایش فقر، از بین رفتن دارایی های ملی، افزایش جرم های جنایی، دزدی‌ها، قتل های مســـلحانه و فرار مغزها و مهاجرت های اجباری می گردد. در افغانســـتان الگوهای ناسالم زیادی در بخش مصـــرف خانواده وجود دارد و بی خبـــری و ناآگاهی ها سبب استمرار این الگوها گردیده است.

با توجه به انواع و اقسام تبلیغات کالاهای تجاری و افزایش تجملگرایی ها و کمیاب شـــدن منابع مالـــی و اقتصادی، مدیریت اقتصاد و الگوی مصرف، بسیار یک موضوع مهم و اساسی به شـــمار می رود. در بازارهای کشور می بینیم کـــه لباس ها و لوازم خارجی وارداتی با قیمت های بالا و کیفت پایین، جایگزین تولیـــدات داخلی و وطنی گردیده اســـت و هرروز از طریـــق انترنت، فلم‌ها و ســـریال‌های خارجی که از رسانه ها پخش می‌شود، نیازهای کاذب در وجود مردم برای خرید این کالاها بیشتر می‌شود. رو آوردن خانواده‌ها به این لباس های فیشـــینی و کم کیفیت، سبب نابودی اقتصاد خانواده هـــا و در نهایت جامعه می گردد. در مجموع شناسایی فرصت های اقتصادی، مدیریت دقیق درامد و روی دست گرفته شدن الگوی مناسب مصرف، از موضوعات بسیار مهم و ضروری است. اگر دراین قسمت بی توجهی شود، افزایش هزینه های کمرشکن، سبب فقر، نابودی منابع، مشکلات متعدد اقتصادی می‌گردد.

بنـــا اولین گزینـــه در مدیریت اقتصاد خانواده، شناســـایی ظرفیـــت ها و مهارت های موجود در وجود افراد خانواده اســـت. خانواده‌ها باید ظرفیت هـــا و مهارت‌های افراد را دقیق بررسی و شناسایی کنند و بعد برای هرعضو خانواده مســـئولیت مطابق به مهارت هایـــش را اختصاص بدهد. مثلا توجه به صنایع دســـتی، بافندگـــی، پرورش حیوانات خانگی، ایجاد گلخانه و ... از مهمترین شاخصه های است که معمـــولا افراد هرخانواده آن را بلد اســـتند و می‌توانند یادبگیرند و انجام بدهند.



پس انداز از دیگر روش‌ها اســـت. خانواده ها باید مصرف خویش را به اندازه درامد تنظیم کنند و بخشی از درامدشان را پـــس انداز کننـــد. در این صورت می تـــوان گفت که مدیریت دقیق از درامد وجود دارد.

از طرف دیگر الگوی مصرف خانواده ها به شدت نیازمند به وجود آمدن تغییرات است. خانواده‌ها باید تمامی هزینه ها و خرید شـــان را فهرســـت کرده و موارد اضافی و غیر ضروری را شناســـایی و از لیســـت حذف کنند و فقط به موارد ضـــروری و حیاتی که در تـــداوم زندگی ضروری اســـت، بپردازند. متاســـفانه خیلی از خانواده‌ها در بخش لباس، خوراک، رســـم و رواج هـــا، مصرف آب، برق و ... گرفتار مصرفگرایی اســـتند. این درحالی اســـت که از نظر دین اســـلام نیز اسراف یک عمل مضموم و ناپسند خوانده شده است.

کاهـــش هزینه حمل و نقل و کرایه موتر و مصارف آن، از دیگر پیشنهادات اســـت؛ چون یک بخش مهمی از هزینه های خانواده ها مصرف کرایه موتر، هزینه ترمیم، پارکینک موتر، تیل موتر و ... می‌شـــود. در این قسمت خانواده باید از وسایط نقلیه عمومی اســـتفاده کنند که هم هزینه حمل و نقل پایین می‌اید و هم از آلودگی های بیشـــتر و ترافیک سنگین نیز جلوگیری می شود.

تنظیم خوراک و استفاده از غذاهای خانگی از دیگر روش های مدیریتی در مصرف اســـت. خانـــواده ها باید روش های پختن انواع غذاهای خانگی را یاد بگیرند و در هنگام تفریح، سفر و درخانه باید از دست‌پخت خودشان استفاده کننـــد. هم از لحاظ اقتصادی به نفع مردم اســـت و هم از نظر صحی مناســـب تر به نظر می رسد. چون یک بخش کلان از پول و درامد خانواده ها، مصرف خوراک می شود. خانواده ها باید مواد خوراکی فاســـد ناشـــدنی را یک باره خریداری کنند و در یک مکان مصئون نگهداری کنند. در این صورت هم با قیمت پایین خریداری می کنند و هم از لحاظ زمانی کمتر وقت صرف می شود.

مهـــارت آموزی در مدیریت اقتصادی خانواده ها، از دیگر پیشنهادات است. از آنجایی که مادران در همه امور زندگی خانوادگی به خصوص چگونگـــی خرید و مصرف نقش دارند، باید مهـــارت های خویـــش را در بخش مدیریت اقتصادی خانواده بالا ببرند. خانواده ها باید تمامی امکانات مادی، معنوی و نیروی بشـــری خویش را شناسایی کرده و آن را بـــه کار گیرند. مثلا بداننـــد که فرزندان و اعضای خانواده به کدام کسب و پیشـــه ها علاقه داشته و مهارت دارنـــد، چکارهای می توان در خانه انجام داد و هرکدام را بر اساس توانایی و ضرورت ها باید انتخاب کرد.

آن‌گونـــه که قبلا نیز اشـــاره شـــد جلوگیـــری از مصرف گرایـــی و اصلاح الگوی هـــا مصرف ازدیگـــر راهکارها اســـت. خانـــواده نباید دنبـــال مصرف گرایـــی و تجمل گرایی باشـــند. از کمرشـــکن ســـاختن مراسم ها باید جلوگیـــری شـــود و به هر انـــدازه که این مراســـم ها از نظر اقتصادی ســـبک تر شـــود، به نفع خانـــواده و جامعه است.

# مطالعه دافغاني فرهنگ ديـوېځـــانګړې بـرخې په تــوګه

شاه محمود درويش

دا واقعاً يو انـــکار نه منونکې حقيقت دی چې د کتاب لوســـتل او پـــه ټولیزه توګه مطالعه د هر انســـان د پوهنيزې ورتیا، د ګټورو معلوماتـــو په بډاينـــه او د ذهن په پراختیا کـــې ځانګړی اهميت او اغيزمـــن رول لري، بنـــاً ددې ټکي يادونه حتمـــي ده چې د آدم(ع) د پيدايښـــت له لومړيو وختونو څخه تر نن ورځې پورې د انســـانانو تمدن تاريـــخ او فرهنګ دکتاب په مرســـته راتلونکو نســـلونو ته لیږدول شـــوی دی، که چېرې د کتاب مرسته نه وای انســـان د تمدن پيژندنې او د خپلو نیکونو د تلپاتې ارزښـــتونو په تګلوري کې نه بریالی کېده د همدې ارزښـــت او اړتیا پر بنسټ د کتاب او کتـــاب مطالعی ته پاملرنه زمونږ يـــوه اړتیا ده ځکه د کتـــاب مطالعه او له کتاب ســـره علاقمندۍ ددې ســـبب کېږي چې انســـانان په ټولنـــه کې د پوهې او معلوماتو پـــه پراختیا کې په تېـــره بیا ځوانانو ته ګټور او ارزښـــتناک اثار پريږدي. کتاب او قلم د اســـلام په مبين دين او په افغانـــي فرهنګ کې لوړ مقام او دريـــځ لري دغه دواړه زمونږ خلکو ته نـــا پيژاندې کليمې نه دي، بلکې له پخوا زمانو څخه راپه ديخوا زمونږ د خلکو له ژوندانه او برخليک ســـره پيوند لري او وده يې کړې ده او د اسلام مبين دين په الهي کتاب او کلام ســـره مونږ ته معرفي شـــوی دی او د قران عظيم الشـــان آســـماني کتاب لومړی آيت د اقرء په پاکې کليمي يعنې ولوله سره پيل شوی دی او په دې ترتيب لوی خدای(ج) د کتاب او د هغه د ليکلو او لوســـتلو ارزښت بشريت ته وروښود، هغه کتاب چې تر زياتې اندازې پورې معنوي ارزښت لري چې لوی خدای(ج) بشريت ته خپلې لارښـــوونې په څلورو کتابونو کې خلاصه کـــړي دي، واقعيت دادی که چېرې خط او کتاب نه وای ښايي مونږ انســـانان نن هماغه بدوي ژوند درلود افغانستان دشـــتمنيو او د لرغونې فرهنګ خاوند دی د افغانســـتان د تاريخ پاڼې له زياتې زمانې راپه ديخوا په دغه لرغوني هيواد کې دزيات شـــمېر شـــاعرانو، ليکوالو، څېړونکو، طبيبانـــو او د عالمانو او ددينې مدرســـو دشـــتون خبرې کوي او ثابتوي چې زمونږ هيواد د فرهنګـــي او معنوي شـــتمنيو له پلوه بډای هيـــواد دی په تېرو وختونو کې د کتاب لوســـتل او مطالعې فرهنګ زمونږ د افغانانو د ورځنـــي ژوندانه يو برخه وه خو زمونږ د هيواد اوســـنی حالت د تېـــر په پرتله توپير لـــري. د ځينو کارپيژاندو پـــه باور په هيواد کې دکتاب ليکنې، لوســـتنې ،خپرونـــې او چاپونې لړۍ ترپخوا يو څه ښه شـــوې خو لا هم د قناعت وړ نه ده او په دی برخه کې لا هم ډيرې ســـتونزې موجودې دي او ترټولو لويه ســـتونزه هم پـــه خلکو کې دکتاب لوســـتلو د فرهنګ کمښـــت دی. کله چې انترنت او تصويري رســـنۍ دومره نه وې نـــو خلکو به ډېر کتاب لوســـتلو ته پام کاوه خو اوس له بده مرغه د ډيرو خلکو وخت په نورو بوختياوو مصرفيږي د نړۍ په هـــر ګوټ کې که پرمختللی هيواد ليدل کېږي نو د هغوی پرمختګ د کتاب لوســـتلو ، ليکنو او خپرونو له لارې ســـرته رســـيدلی د نړی مشـــهور کسان هغه دي چې ښـــه کتابونه يې ليکلـــي او دهمدغو کتابونو له لارې يې خلک پيژني او د همدغو کتابونـــو له لارې خپل فکرونه نورو ته ورليږدوي. کتاب په حقيقت کې هغه ملګری دی چې خاموشـــه خوله له انســـان سره دوســـتي کوي او پرته له ناوړه عکس العمل څخه خپل مثبت معلومات نورو ته ورکوي، البته څرنګه چې تل ويل شـــوي د افغانستان د بدمرغيو ســـتر عامل د پوهې او سواد د کچـــې ټيټوالی دی نو دغه ټيټوالـــی يواځې د پوهی د کچې په لوړوالي ســـره ترلاسه کېدلای شـــي، څومره چې په يو هيواد کې تعليم او تربيه او لوړې زده کړې ارزښـــت لري په هماغه کچه د کتابونو لوســـتل او خپرول هم د ډير ارزښـــت وړ دي. ددې ټکې يادښـــت هم ضروری دی، ځينې وخت چې مونږ کتاب مطالعه کوو ژر د ستړيا احساس کوو، نو ددې لپاره چې د کتاب لوستنې په وخت کې ژر د ستړيا احساس ونه کړو نو د ځينو څيړونکو په باور لاندې سپارښـــتنې بايد په نظر کې ونيسو، البته له سپارښتنو مخکې ددې ســـتونزې د لاښې ســـپړنې او حللارې لپاره کتاب لوستنه د موضوعاتو له مخې په ددو برخو ويشو:

لومړی: آزاده مطالعه چـــې د معلوماتو د ډيرولو پر موخه کېږي، د خپل مســـووليت ور هاخوا کتاب لوستنه ده لکه د ښوونځي يو تن زده کوونکی د خپلو درســـې کتابونو ســـر بيره نور کتابونه او مجلې مطالعه کوي.

دويم: د خپل مســـووليت او مسلک په ســـاحه کې مطالعه لکه د ښـــوونځي زده کوونکی ته خپل درســـي کتابونـــه، د پوهنتون محصـــل ته دخپل اړونـــد پوهنځي نوټونه،البتـــه له کتاب څخه ستړيا په دواړو حالتونو کې يو ډول ده خو د مسووليت او مسلک په ســـاحه کې به له کتاب لوستنې ستړيا يو څه ژر او ډېر وي خو مـــونږ يې دواړه يو ډول بولو او پر حـــل يی غږيږو، د حل لپاره يې لاندې سپارښـــتنې کېږي، تاسې دا سپارښتنې د کتاب لوستنې پر وخت په پام کې ونيســـئ له لنډ وخت څخه وروســـته به په ځان کې تغير احســـاس کړئ او داستونزې به مو ورو ورو حل شي:

– د کتـــاب لوســـتنې لپاره بشـــپړ چمتووالی يعنـــې په روحي او جســـمي ډول بايد کتاب لوســـتنې ته جوړ واوســـئ که مو فکر خراب يـــا مو فکري تمرکز په بل څه وو له کتاب لوســـتنې څخه تېر شئ.

– هغه مطالعه چې د مســـووليت له مخې او د مســـلک په برخه کې يې کوئ ســـهار وختي بايد وشـــي او ذوقي مطالعه د شـــپې ناوخته ښه ده.

– کـــه مو پنځوس دقيقې کتاب ولوســـتلو نو لـــس دقيقې حتمي تفريح وکړئ او بيا مطالعې ته ور وګرځئ.

– که ناروغ اوســـئ او يا مو خوب زنګوي لـــه مطالعې څخه تېر شـــئ او آرام ويده شـــئ د خوب مخنيوي لپاره شين چای يا قهوه وڅښـــئ، اروا پوهان د خوب ځای هم د کتاب لوستنې لپاره ښه او مناسب نه ګڼي.

– د کتاب لوســـتنې پر وخت د پنځو حواسو يو ځای کول حتمي دي ځکه چې اروا‌پوهان يې پاملرنه بولي.

– په دې بايد خبر شئ چې له کتاب لوستنې مو موخه څه ده؟ له نني مطالعې څخه څه زده کول غواړئ؟

– د کلماتو په معناوو پســـې ډير ســـرمه ګرځوئ، بلکې د ليکنې محتوا ته فکر وکړئ دليکنې اساســـي مفاهيم ذهن ته وسپارئ او په ورځني ژوند کې ترينه استفاده وکړئ.

– د کتـــاب د يوې مقالې له لوســـتنې څخه وروســـته د مقالی پر موضـــوع ژور فکر وکـــړئ د مقالی موضوع ځان ته ښـــه تحليل کړئ.

– په وروستيو کې ستاسی او د کتاب تر منځ بايد فاصله له(۳۰) سانتي متر څخه ډېره او کمه نه وي.

له شـــک پرته که چېرې ياد ټکې په بشپړ ډول عملی کړئ ستاسی او د کتاب ترمنځ به خبری پيل شـــي، داسی خبرې چې ستړيا به تري احســـاس نه کړئ ډير وخت به کتاب لوســـتنی ته هوسيږئ او بـــې له کتاب څخه به ځان درته بد ښـــکاري، پام مو وي چې دا ډول کتاب لوســـتنه په لومړيو وختونو کې ستونزمنه به وي خو ورو ورو به ورســـره عادت شـــئ ځکه د يو عمل تکرار په عادت بدليږي او عادت ستاســـې په کړنو کې په خپله څرګنديږي، البته د داســـې مطالعې ګټه به داوي چې تاسې به لوستلی يو څه هضم کـــړئ او په ورځنی ژوند کې به د اړتيا په وخت تاســـو ته په درد وخوري او هم به ستاسو پر مټ بل ته د موثره استفادې په موخه ګټور معلومات په واک کې ورکړل شي.

دې ټکـــې ته مو هم بايد پام وي چې پوهنه او فرهنګ د هر هيواد د خلکـــو د پوهې او فرهنـــګ د کچې په لوړولـــو کې ځانګړی ارزښـــت لري، په واقعيت ســـره چـــې د نړۍ په هـــر ګوټ کې چې کوم هيـــواد پرمختګ کړی هغه د پوهـــې او فرهنګ په مټ دی د افغانســـتان اســـلامی امارت، زمونږ ليکوالان، پانګوال او خپرندويان بايـــد د کتاب ليکنې، چاپونـــې او خپرونې په برخه کـــې د اوس په پرتله لا نور هم زيار وباســـي تر څو چې زمونږ د هيواد خلک په پوهه ســـمبال شـــي او له دې لارې هغه ستونزې چې د جګړو، بی اتفاقيو او د پرديو د مداخلو په برخه کې لرو له منځه ولاړې شي، همداراز که چېرې د پوهې او فرهنګ له لارې خپل ملي يووالی، خپل اقتصاد، خپل دولتي جوړښت او دهيواد نورې برخې پياوړې کړو نو ډاډه يو چې د اوســـنيو بدمرغيو لمن هم ټولولای شو.

ديادونې وړ ده چې ليک او ليکوالي، کتاب او خپرونې هغه لارې دي چې د افغانســـتان د اطلاعات او فرهنـــګ وزارت، د علومو اکاډمـــۍ، د معارف او لوړو زده کـــړو وزارتونه، خصوصي برخه او نورې آړوندې دولتي او ټولنيـــزې څانګې يې بايد چې په وده کې پوره ونډه واخلي. همداراز په ټوليزه توګه د هيواد رســـنۍ که هغه غږيزې وي يا انځوريزې بايـــد چې د هيواد په خلکو کې د کتاب فرهنګ او د لوستلو د فرهنګ په خپرولو کې ونډه واخلي، يوه بله ســـتونزه هم زمونږ په خلکو کې شته او هغه زمونږ د پوهو ليکوالانو په تېـــره بيا د کتاب ليکوونکو هڅونـــه ډېره لږه ده مونږ ډېر داســـې ليکوالان لرو چې کتابونه يې ليکلي خو په چاپ يې توانيدلای نه شي او که بيا کوم کتاب چاپ هم کړي بيا د لوستلو لپاره يې دومره شوک نه وي.

راځـــئ چې مونږ هر يو د فرد په توګـــه او دولتي او نورې ټولنيزې برخـــې د ډلو پـــه توګه د کتـــاب د خپرولو، ليکلو، لوســـتلو او د لوستونکو د هڅونو په برخه کې له اوس څخه ډېر کار ترسره کړو او دغه مثبت او د ټولنې د ســـتونزو د لـــرې کولو عامل ته لا نوره هم وده ورکـــړو تر هغه چې په ټوليزه توګـــه پتمن هيوادوال او په ځانګړې توګه د هيواد ځوان نسل د خپل ورځني ژوند يوه اندازه وخت د با ارزښته ښـــوونيزو کتابونو لوستلو ته ځانګړې کړي او په دې ډول د خپلې پوهنيزې وړتيا په لوړولو ســـره ګران هيواد او قدرمنو هيوادوالو ته د غوره خدمتونو جوګه شي.

# په شعبان کې دعبادت فایدې

**حسان مجاهد**

رسـول اللـهﷺ بـه یـوازې پـه شـعبان میاشـت کــې ډېـري نفــلي روژې نیولــې، پــه دې اړه یـوه ورځ اسـامه بـن زید(رض)تـرې وپوښـتل او رسـول اللـهﷺ ورتـه وفرمایـل « د رجـب او رمضـان ترمنـځ دغه(شـعبان) هغـه میاشـت ده چـې مسـلمانان پکـې ډېـر غافلـه وي، پـه دې میاشـت کـې اللـه تعالـی تـه دانسـانانو عملونـه پورتـه کیـږي؛ ځکـه نـو زه خوښـوم چـې زمـا عمـل اللـه تعالـی تـه پـه داسـې حـال کـې ورسـېږي چـې زه روژه دار یـم [سـنن نسـائي] رسـول اللـهﷺ پـه شـعبان کـې د زیاتـو روژو نیولـو دوه لاملونـه بیـان کـړو: لومـړی دا چـې اللـه تعالـی تـه د بندګانـو کلنـي اعـمال پـه دې میاشـت کـې رسـېږي او دوهـم داچـې پـه دې میاشـت کـې مسـلمانان غافلـه وي. غفلـت دا و چـې تـر شـعبان مخکـې د رجـب میاشـت هـم لـه غـورو میاشـتو څخـه وه، چـې قتـال (جنګ) پـه کـې حـرام و او تـر شـعبان وروسـته رمضـان هـم غـوره میاشـت ده؛ ځکـه نـو مسـلمانان پـه شـعبان کـې لـه عبـادت څخـه غافلـه و.

ابـن رجـب حنبـلي (رح) او ابـن جـوزي (رح) د غفلـت پـر مهـال دعبـادت یوشـمېر فایـدې بیـان کـړې دي:

**١_له ریا څخه دعمل پاکي**

دغفلـت پرمهـال عبـادت پـه پټـه توګـه ادا کیـږي او لـه ریا(ځـان ښـودني) څخـه ښـه پـاک وي او اسـلافو بـه ډېـر کوشـش ددې کاوه چـې پـه عبـادت یـې خلـک نـه شي خبر. ځیني داسي سلف تېر شوي دي چـې ځلوېښـت کالـه بـه یـې لـه خلکـو پټـه روژه وه، سـهار لـه کـوره وتلـو پـر مهـال بـه یـې لـه ځـان سره دوې پټیري/روغانـۍ واخیسـتې او دکورنـۍ غـړو بـه دا خیـال شـو چـې روژه یـې نشـته، کلـه چـې بـه بـازار تـه ورسـېد؛ هلتـه بـه یـې پټـیرې خـیرات کـړې او د بـازاري خلکـو بـه دا خیـال شـو چـې کـور یـې ډوډۍ خوړلـې ده او روژه یـې نشـته. دوی بـه داسـې څـه کـول چـې پـه مـټ یـې خپلـه روژه لـه خلکـو پټـه وسـاتي، ابـن مسـعود رض بـه ویـل کلـه چـې پـه تاسـو کـې د چـا روژه وي؛ نـو هغـه دې سـهار تېـل وکاروي. قتاده بـه ویـل: د روژه دار لپـاره مناسـبه ده چـې د تېلـو پـه اسـتعمال سره دروژې سـپیره والـی لـه ځانـه ایسـته کـړي او خلـک پـرې پـوه نـه شي.

**٢_ په نفس سختي**

دغفلـت پرمهـال عبـادت پـه نفـس ډېـر درونـد وي؛ ځکـه کلـه چـې یـو انسـان نـور انسـانان پـه یـو عبـادت ووینـي نـو هغـه عبـادت ورتـه ګـران نـه وي لکـه د ورځـې لمونځونـه او درمضـان روژې چـې ټـول خلـک یـې تـرسره کـوي، امـا پـه انسـان هغـه عبـادت چـې نـور عـام انسـانان یـې نـه کـوي لکـه دشـپې لمونـځ او د شـعبان روژې؛ دا پـه نفـس درونـد تمامیـږي او بهـتره عبـادت هغـه دی چـې پـه نفـس درونـد وي.

**٣_ له الهي عذابه نجات**

کلـه چـې عـام خلـک پـه ګنـاه او غفلـت کـې اختـه وي او یـو څـوک بیـا یـوازې عبـادت کـوي(لکـه دشـپې مهـال لمونـځ یـا د شـعبان روژې) نـو اللـه تعالـی دده پـه برکـت سره لـه ټولـو عامـو خلکـو څخـه بـلاوې او عذابونـه پورتـه کـوي، نـو ده ګواکـې ټـول انسـانان لـه الهـي عذابـه وژغورل.[لطائـف المعـارف صــ١٩١- ١٩٣]

**۴_ په عبادت باندې حرص**

دغفلــت وخــت پــه عبــادت راګــیرول بهــتره عمـل دی او پـه دې وخـت کـې عبـادت کـول؛ لـه عبـادت سره دسـړي پـر ډېـر حـرص دلالـت کـوي؛ ځکـه پـه دې وخـت کـې نـور انسـانان پـه شـهواتو او عاداتـو اختـه وي همـدا وجـه ده چـې دماښـام او ماخسـتن لمونـځ پـه جماعـت سره ادا کــول او دشــپې لمونــځ کــول بهــتره عمـل دی ځکـه پـه دې وخـت کـې نـور خلـک غافلـه وي.[التبـصرة جـ٢صــ٥٠]

سـلمه بـن کهیـل (رح) او حبیـب بـن ابـی ثابـت (رح)بـه د شـعبان پـه را رسـېدو سره ویـل: دا د تـلاوت کوونکـو میاشـت ده.

عمـرو بـن قیـس ملائي(رح) بـه د شـعبان پـه رارسـېدو سره خپـل دوکان وتـړه او ځـان بـه یـې دقـرآن کریـم تـلاوت تـه فـارغ کړل[لطائف المعارف صــ١٩٦]

نـو ټولـو مسـلمانانو تـه پـه کار ده چې د شـعبان په میاشـت کـې نفـلي روژو، لمونځونـو، صدقو او تلاوتونـو تـه ځانګـړې پاملرنـه وکـړي؛ تـر څـو دغـه دغفلـت میاشـت پـه عبـادت کـې تیـره کـړي او راتلونکـې میاشـت (رمضـان) کـې عبـادت تـه یـې ځانونـه چمتـو کـړي.

# د غرامت مستحق څوک دي؟

**حمزه حسیني**

د ۲۰۰۱ میـلادي کال د سـپتمبر میاشـتې پـر ۱۱ نېټه د سـه شـنبې پـه ورځ کابـو ۱۹ کسـانو چـې ویـل کیږي ټـول عـرب او د القاعـده ډلـې سـره یـې تـړاو درلـود د امریـکا متحـده ایالاتـو ۴ مسـافر وړونکـې الوتکـې یرغمـل کـړې، یـادې الوتکـې د لـوګان انټرنیشـنل، دالاس انټرنیشـنل او د نیویـارک لـه هوایـي ډګرونـو څخـه کلیفورنیـا ایالـت تـه پـر لاره وې، لـه یرغمـل شـویو الوتکـو دوو یـې د نیویـارک لـه دوو لـوړ پـوړو سـوداګریزو ودانیـو سـره ټکـر وکـړ، دریيمـه یـې د دفـاع وزارت (پینټاګـون) لـه ودانـۍ سـره وجنګـول شـوه او څلورمـه یـې چـې ځمکـې تـه نـږدې شـوې وه پنسـیلوانیا ایالـت کـې سـقوط وکـړ.

پـه دې پېښـه کـې ټـول ۲۹۹۳ کسـان ووژل شـول، لـه یرغمـل نیوونکـو کسـانو پرتـه پـه دغـو څلـورو



الوتکـو کـې ۲۴۶ کسـانو ژونـد د لاسـه ورکـړ، ۲۶۰۲ کسـانو د سـوداګریزو ودانیـو د ړنګېـدو لـه املـه ووژل شـول، ۱۲۵ کسـان پـه پینټاګـون کـې مـړه شـول چـې ټیموټـي مـودي یـې لـه ټولـو لـوړ رتبـه جنـرال یـاد شـوی دی، پـه وژل شـویو کـې ۳۴۳ تنـه اور وژونکـي او ۶۰ تنـه د نیویـارک د پولیسـو لـه ډلـې څخـه وو، تـر دې پېښـې یـوه میاشـت وروسـته د امریـکا متحـده ایالاتـو د هغـه وخـت ولسمشـر جـورج بـوش لـه شـواهدو پرتـه د ړانـده قضـاوت لـه مخـې افغانسـتان پـه دې پېښـه کـې پـه لاس لرلـو تـورن او پـه دغـه جګـړه ځپلـي هیـواد یـې خپـل ظالمانـه پوځـي هجـوم راوړ.

د امریـکا لـه دې ظالمانـه پرېکـړې او پوځـي یرغـل وروسـته د طالبانـو اسـلامي تحریـک رنګ، زرګونـه افغانـان مهاجـر، بندیـان، شـهیدان او ټپیـان شـول، امریـکا لـه ګنـو کفـري هیوادونـو سـره یـو ځـای ټـول بیـن المللـي قوانیـن تـر پښـو لانـدې، د افغانسـتان خـاوره یـې اشـغال او دلتـه یـې کابـو دوه لسـیزې همـدې نـاروا اشـغال تـه دوام ورکـړ، چـې لـه املـه یـې د زرګونـو بې ګنـاه افغانانـو وینـې تویـې کړلـې.

افغانـان چـې لا پخـوا یـې کفـري متجـاوزو قدرتونـو تـه غـاښ ماتوونکـي ځوابونـه ورکـړي وو، د صلیبـي لښـکرو پـر وړانـدې هـم سـره یـو موټـی شـول او د اللـه تعالـی پـه کامـل نصـرت یـې صلیبـي متجاوزینـو تـه د تېـر پـه څېـر تاریخـي شکسـت ورکـړ، خـو دا چـې کفـري نـړۍ نـور څـه نـه شـوای کولـی، پـر افغانسـتان د ګـڼ شـمېر بندیزونـو سـربېره یـې د عامـو افغانانـو زېرمـې هـم کنګـل کـړې، وروسـته یـې پـه اړه وویـل شـول، چـې ددغـو کنګـل شـویو زېرمـو نیمـه انـدازه چـې ۳.۵ میلیـارده ډالـره کیـږي، ښـایي د ۱۱ سـپتمبر قربانیانـو تـه د غرامـت پـه ډول ورکـول شـي، د افغانانـو د شـتمنیو تـر کنګـل کېـدو را وروسـته پـه پراخـه کچـه د امریـکا دغـه پرېکـړه وغنـدل شـوه او دا یـې د یـوه شـتمن هیـواد غـلا وبللـه، خـو د کنګـل شـویو شـتمنیو نیمـه برخـه یـې سـویس کـې یـوه بانـک تـه پـه امانـت ډول ورکـړل شـوه، دا بـه د افغانانـو ښـه بخـت یـاد کـړو چـې ددغـي سـاتل شـوې زېرمـې پـه هکلـه ویـل شـوي چـې یـادو شـتمنیو ۵۰ میلیونـه ډالـره ګټـه کـړې ده.

دا چـې د امریـکا ددې جابرانـه پرېکـړې څخـه دا دی کابـو دوه کالـه تېرېدونکـي دي، د تېـرې سـه شـنبې پـه ورځ د امریـکا متحـده ایالاتـو د نیویـارک ایالـت د منهټـن د یـوې محکمـې قاضـي دا پرېکـړه وکـړه چـې د ۲۰۰۱ میـلادي کال د سـپتمبر د ۱۱ مـې قربانیـان نشـي کولـی، د افغانسـتان د کنګـل شـویو شـتمنیو ۳.۵ میلیـارده ډالـره د غرامـت پـه توګـه واخلـي، قاضـي جـورج ډانیلـز ویلـي، دا شـتمني د افغانسـتان بانـک پـورې اړه لـري او عامـو افغانانـو حـق دی چـې د ۱۱ سـپتمبر قربانیـان یـې د غرامـت پـه توګـه هیڅکلـه نشـي تـر لاسـه کولـی.

زمـا پـه انـد کـه د غرامـت پـه اړه فکـر وکـړو د نړیوالو قوانینـو لـه مخـې امریـکا او ناټـو بایـد افغانانـو تـه د تېـر شـل کلـن اشـغال او پـه دې مـوده کـې د کړیـو بشـر ضـد کړنـو غرامـت افغانانـو تـه ورکـړي، ځکـه پـر مظلـوم افغانسـتان د دوی نـاروا اشـغال هیـڅ کـوم قانونـي اړخ نـه درلـود، د همـدې غیـر قانونـي کړنـو د جبـران لپـاره امریـکا او متحدیـن یـې افغانانـو تـه ملامـت دي او بایـد پـه لـوړه انـدازه غرامـت ورکـړي.

دوی پـر ځـای ددې چـې افغانـان د غرامـت مسـتحق وګڼـي، بلعکـس یـې پـر افغانـي واکمنانـو نړیـوال بندیزونـه لګولـي، پـر افغانـي واکمنانـو یـې د سـفر او اقتصـاد محدودیتونـه وضـع کـړي، چـې دا د یـو مظلـوم هیـواد پـر وړانـدې د نړیوالـې ټولنـې غیـر منصفانـه پرېکـړه ده او تاریـخ بـه یـې هیڅکلـه هېـره نـه کـړي، هغـه څـه چـې امریـکا لـه څـه مـودې وروسـته پـرې نظـر ثانـي او پرېکـړه کـوي ښـه بـه دا وي چـې سـر لـه اوسـه دې د افغانانـو لـه زورولـو لاس پـه سـر او ددغـه مظلـوم هیـواد خلـک دې عـادي ژونـد کولـو تـه پرېښـودل شـي.

# نشنلیزم (قوم پرستي)

# Nationalism

**دریمه او وروستۍ برخه / لطف الرحمن قمري**

خو همدا نشنلیزم دی چې کله د ژبې، کله د قوم، کله د رنګ، کله د نژاد او کله یې د سـیمې مسـئله را منځ ته کړې ده، لوی کارونه او لوی تشکیلات یې واړه کړي لوی قومونه او ولسـونه یې په همدغسې تنګ نظرانه شعارونو او نارو سره تیــت او پرک کړی دي او بالاخره یې لــه منځه وړي دي او د حقوقو د لاس ته راوړلو په ځای یې له حقوقو نه بیخی محروم کړی دي. نشنلیزم نه د ژبې په نوم عربان سره یو کړل نه یې ترکان سره راټول کړل او نه یې هم په یوه انګلیسی ژبې خبرې کوونکې سره یو دولت او اداره کړل او نه یې هم د نړۍ په کوم ګوټ کې د رنګ په نوم د افریقا تور پوستان سره راټول کړل.

د قوم، قبیلې او نژاد په نوم نه آسـیایان سره یو شول او نه اروپایان او یا نورسره متحد شــو.بلکې ګورو چې همدا نــن هم افریقا کې د تور پوســتانو ترمنځ د همــدې توپیرونو په نــوم وینې توییــږی اروپا ترنژدې پرون پــورې په همدغه عنوانونو باندې د همدغسې وینو تویوونکوحوادثو شاهده ده او د نړۍ په نورو کونجو اوکنارو کې همدغه نوم او عنوان باندې ډېر څه تېر شــو او روان دي.

ښــکار مثــال یې په ډېر نــژدې تاریخ کې د مســلمانانو د وحــدت او یووالی وروســتی دمه ځای لوی عثمانی اســلامي خلافت ؤ چې له ډېرو منفی نقطو سره بیــا هم د ټولې نړۍ د مســلمانانو لپاره د هیلو یوازینی ســمبول او ســتر متحد ســنګر ؤ، ترڅو چې موجود ؤ د مســلمانانو آرام او هوســا سنګر ؤ او د اســلام دښمنانو په برګو سترګو ورته نه شــول کتلای خو د مسلمانانو ابدي او همیشــني دښمنانو(یهودانو) هڅه وکړه چې په څه ناڅه طریقه د مسلمانانو دغه ګــډ کورعثمانی خلافت لــه منځه یوسي مګر ســلطان عبدالحمید د هغوی په وړاندې مقاومت وکړ او یهودانو چې بله لاره نه درلودله نو په مسلمانانو کې یې د نشــنلیزم تخم وکاره او د عربي نشــنلیزم او ترکي نشنلیزم په نوم یې مسلمانان پــه خپلو کــې سره وجنګول او په دې توګه ترکي اســلامي خلافت ټوټې ټوټې شو او د اســلامي امت په زړه کې فلسطین او د مســلمانانو لومړۍ قبله (بیت المقدس) یې په خپله ولکه کې راوســت او اسراییلي دولت یې تشکیل کړچې نن د مسلمانانود واحد تشکل د نشتوالي له امله له اندونیزیا نه تر الجزایر پورې ټوله اســلامی نړۍ په مســتقیم او یا هم غېرمستقیم ډول د اســتعمارګرو اغېز لاندې ده او که په کوم ځای کې څوک سر را پورته کوي اســتعماري ځواکونه یې د خپل ورور په لاس نسـکوروي او سرپورته کولو ته یې نه پرېږدي.

له همدې ځایه دا اوس مونږ ګورو چې ښــکېلاک ګر په یوه او بله پلمه د متحد افغانســتان د تقسیمولو په غرض هڅه کوي چې د نشنلیزم ساري ناروغۍ پکې وکري،چې البته څه په شــعوري او څه په غیرشعوري ډول په دغې خطرناکې او نــه روغېدونکې ناروغۍ اخته دي اوس نو په ځای ددې چې د افغان مســلمان ولــس په ټپونو باندې د مرهمو پټۍ کېږدي سرچپه مالګې پرې دوړوي.

د شــمال او جنوب په نوم مبارزه د ښکېلاکګرو دسیسه ده د پښتو او فارسی په نومونو هلې ځلې د دښــمن پلمه ده، پښــتون، تاجک، هزاره، نورستانی، ازبک او ترکمــن قومونو په نومونو د حقوقو لاس ته راوړلو په نوم نارې اوســورې په حقیقت کې له ټولو حقوقو نه محرومېدل او په شــعوري او غیرشعوری ډول د خپل ځان پرضد د خپل ازلي دښــمن (یهــودو) او د هغه بادار امریکا د اهدافو تحقــق او تقویه کول دي نو راځئ چې لــه دې وړو وړو کورګکیو اولنډو تنګو افکارو نه تېرشــو او په خلاصه ســینه او ورین تندی د یــوه متحد او خپلواک افغانستان جوړېدو لپاره متې راونغاړواو په ګډه سره کار وکړو.

اسلامي امت څنګه جوړ شو !!!

